مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲/۰۹/۱۷

# سندرماره بانو

## له خندان پیغلتوبه، تر لیونتوبه

خوله به یې تل له موسکا ډکه وه، غوښین اننګي او زړه وړونکې سترګې یې لرلې. نرم سینګار یې کاوه او د خپلې سیمې جامې یې اغوستې. خو په همدې ساده ګۍ کې دومره ښکلې وه، چې سړی به یې په لومړي نظر اخیسته. دا دعوه به هغه وخت لا یقیني شوه چې غږ به دې واورېده.
ما یې یوه ورځ بزرګ (عبدالهادي عطایي ملا) ته ویډیو ور ولېږله. د شپې یې چې څو ځله کتلې وه نو سهار یې له ملا اذان سره زنګ را وواهه، وای: سمسورکه! په دې عمر مو مه وژنه. دا ډول ویډیوګانې او دومره ظالمه صحرایي ښکلا زه کله زغملی شم؟!
ما یوازې په موسکا ځواب ور کړ.
تېره ورځ مې ناڅاپه ګوتې وتخېدې او د ګلبهار بانو نوم مې سرچ کړ. اوس یې نو مخ کې چندان غوښه پاتې نه وه. وجود پرې بوج شوی و او حواسو یې کار نه کاوه.
مسلسل مې څو راپورونه ولوستل او زما د ماشومتوب سندرماره مې په داسې حالت وموندله چې بیا مې یې هیڅ سندرې اورېدو ته زړه ونشو.
بانو د شلمې پېړۍ په ۵۵م کال کې د پنجاب په بهاولپور ولسوالۍ کې پیدا شوه، لومړی زده کړې یې خپلې سیمې کې وکړې او بیا یې د استاذ افضل حسین په مرسته سندرو ویلو ته مخه کړه .
اویایمه لسیزه یې د هلو ځلو لسیزه وه، هماغه وو چې په ۱۹۸۲م کال کې د راډیو د لاربنود عرفان علي په مشهوره د راډیو پاکستان (بهاولپور څانګې) لپاره چانس ورکړل شو. دې هم ښکلې سندرې وویلې او ځینو غزلونو ته یې تلپاتې ژوند ورکړ .
د عروج په لومړیو ورځو (۱۹۸۰م) کې کراچۍ ته لاړه او هلته یې نو د (چاہت میں کیا دنیا داری عشق میں کسی مجبوری، ہمیں جہاں میں، کیا کیا یہ رنگ، ڈھل گئے رات، پھر کہاں ممکن، درد کے ساز، جائیں اس گل کے طرف، کبھی کبھی تو، اُداسیوں کا سماں، تو پاس بھی ہو تو، تو کیا یہ طی ہے کے اب عمر بھر نہیں ملنا، ساگر روئے لہریں شور مچائے، توڑ کر عہد کرم نا آشنا ہو جائیے، بعد مدت اسے دیکھا لوگو) په څېر سندرې وویلې.
په دغو سندرو کې یوه هم د محسن بهوپالي مشهور غزل و، چې هغه مهال د پاکستان له ملي تلویزیون (PTV) څخه وویل شو. غزل وړاندې مني بېګم هم ویلی و، خو چې د بانو له روحه یې اواز را ووت، نو د هر اردو ژبي په خولې همدا مسره جاري شوه چې:

**(چاہت میں کیا دنیا داری**
**عشق میں کسی مجبوری)**

بانو د عروج ښې ورځې ولیدلې، مشهوره شوه او له سندرو یې هندۍ او پنجابی سنیما کې هم ګټه واخیستل شوه. په ۲۰۰۷م کال کې د صدارتي جایزه ورکړل شوه؛ خو دې خبر یې هم نوم بېرته هغسې و نه ځلاوه او د زوال ورځې یې لا غښتلې شوې.
دا چې د شهرت په کلونو کې مئینه شوې وه او ښکلې زندګي یې جوړه وه. ورو ورو له سندریز محفلونو ورکه شوه او بیا په ۲۰۰۹ کال کې هغه خبر هم خپور شو چې ښایي د بانو د اوسني وضعیت لامل وي.
د هغې خاوند مړ شو. هغه تن چې بانو ورسره د زړه له تله مینه کړې وه او د هغه په خاطر یې هر څه پرېښي وو .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د خاوند له مرګ وروسته هغه کله هم ښه نشوه او بیا څو ځله د کراچۍ په اوږدو سرکونو کې ولیدل شوه، چې په یو نامعلوم اضطراري کیفیت کې به روانه وه.
وروسته لاهور ته راغله او اوس نو هغه وخت و چې بانو له څو سپین ږیرو ادیبانو او هنرمندانو پرته چا نه پیژندله.
په ۲۰۱۸ کال کې یو زړه بوږنونکی خبر خپور شو. د اردو او هندي ژبې رسنۍ له دې سرخطه ډکې شوې، چې ګواکي مشهوره سندرغاړې ګلبهار بانو لېونۍ شوې او ورور یې په کور کې بندي کړې.
د سیمې پولیسو د بانو د ورور کور باندې چاپه ووهله، هغه یې په داسې حالت کې روغتون ته راوړه چې حواسو یې کار نه کاوه او ان ځان یې نه پیژنده .
میرني ورور یې د ډاکټرانو په مخ کې ثابته کړه چې بانو لېونۍ شوې. هماغه و چې د کراچۍ اغا خان روغتون له کومې درملنې پرته په نیمه شپه کور ته ولېږله .
د خبر له خپرېدو سره سم هنرمندانو د بانو په وضعیت افسوس وښوده. مشهور غزل خوان استاذ رفیق وویل، چې:
بانو د موسیقۍ نه تکرارېدونکی نوم دی، چې د زمانې د بې رخۍ او مالي مشکلاتو له امله یې ذهني توازون وبایله .
شاهده مني چې د اسیایي راګونو د ملکې په نوم هم مشهوره ده؛ وویل: زموږ په هېواد کې د شهرت پر مهال هر څوک درسره ملګري وي؛ خو چې زوال راشي، نو خپل سیوری دې هم همسفر نه پاتې کیږي. د ګلبهار بانو له خبر اورېدو وروسته سخته خفه شوم. هنرمندان ډېر حساس وي او وړې وړې خبرې په زړه اخلي.
له دوی پرته شعمون فدا، انور رفیع، صایمه جهان، محمد سلیم بزمي، عارف بټ، مون پرویز، میګها او عیني طاهره هم د بانو حالت زړه بوږنونکی وباله. ټولو حکومت او ټولنه پړه وبلل؛ خو خپله یې د عملي اقدام کومه غوره ونکړه او اونۍ وروسته کیسه بېرته سړه شوه.
ویل کیږي چې بانو له ۲۰۰۹ کال راهیسې په (شیزوفرینیا) عصبي ناروغۍ اخته ده او همدا سبب دی چې له تېرو ۱۴ کلونو راهیسې د کور په یوه کوټه کې بنده ده.
د رسنیزو معلوماتو له مخې په ۲۰۱۶ کال کې د بانو په ګډون ۳۴ اړو هنرمندانو ته د حکومت له لوري ۹۰ لکه کلداري ورکړل شوې؛ خو دا چې بانو لېونۍ وه، هغه پیسې یې میرني ورور اعجاز واخیستې او د هغې د کراچۍ او بهاولپور جایدادونو په ګډون یې ټوله شتمني هم تري غصب کړه .
د بانو نورې کورنۍ هم له اعجازه کمې ونکړې او پر هغې یې هر وخت تشدد وکړ، کور کې یې بندي کړه او د ناروغۍ په لا سختولو کې یې هیڅ کسر پرېنښود .
تر دې چې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۲مه یې ګاونډیانو چیغې واورېدې او هغوی پرې پولیس خبر کړل.
څو ځله د بانو د درملنې خبرونه هم خپاره شول؛ خو تر ننه ټول دروغ ثابت شوي او نوموړې لا هم په ډېر بد وضعیت کې د بهاولپور په خانقاء شریف کې ژوند کوي، چې له تېرو څو کلونو راهیسې یې حواس بایللي او د نه زغملو ژوند تېروي.
ما یې اوسني حالت ته فقط څو اوښکې وڅڅولې او میلونه لرې بانو ته مې د ژر مرګ دعا وکړه. ځکه دا وحشي، بې هنره او بد ذوقه قومونه بانو ته اړتیا نه لري.
د بانو موسکانه څېره، دل نشین انداز، دلفریبه لهجه او د پېغلتوب له سر و تاله ډک اواز به مې هیڅکله هېر نشي.
ځیني ډاکټران وايي چې ښايي بانو د سکزوفرینیا په ناروغي اخته نه وي؛ ځکه سکزوفرینیا داسې ناروغي ده چې اکثره وګړي په ځوانۍ او پېغلتوب کې پرې اخته کیږي. زیاتره هغه خلک د دې ناروغۍ ښکار کیږي، چې شرمیندوکي او ګوشه نشینه وي. خو بانو داسې نه وه، په پېغلتوب کې به یې خوله له خندا او زړه له مستۍ ډک وو .
د هغې د لیونتوب تر ټولو غټ دلیل دا کېدی شي چې د خاوند له مرګ وروسته په ډیپریشن اخته شوه چې کورنۍ یې په وخت علاج ونکړ او هغه د ډیپریشن وروستي حد ته ورسېده .
رانا عدنان چې ماشومتوب کې د بانو دوی ګاونډی و او مور یې څو ځله هغې ته شعرونه هم لیکلي و؛ لیکي: د ماشومتوب هغه ورځې مې لا هم یادې دي چې زما مور (زبیده زیدي) به غزلونه لیکل او بانو به په سندره تري جوړوله .
عدنان زیاتوي: مور به مې د شپې یوه ډایري او قلم له بالښت لاندې کېښودل. یوه شپه چې را ویښ شوم؛ تږی و مې پوښتل: مورې! څه لیکې؟
هغې ځواب راکړ: زویه! د زمکې له ۷ طبقو لاندې ځیني رازونه وي، چې هغه یوازې د شپې مهال بهر راوځي او شاعرانو ته ډالۍ راوړي. که شاعر هغه ډالۍ او رازونه خوندي نه کړي؛ نو بېرته د ځمکې ۷مې طبقې ته ښکته کیږي او د تل لپاره غیبیږي. زه ځکه دا کتابچه او قلم د بالښت لاندې ساتم څو راتلونکې ډالۍ او رازونه خوندي کړم .
د مرحومې زیدي دوه بیتونه داسې دي لکه د بانو وروستي ژوند ته یې چې لیکلي وي:

**اس نے بھی مجھ کو مورد الزام کر دیا**
**جذبوں کو سارے شہر میں بدنام کر دیا**
**زیدیؔ کو یوں غموں کی لحد میں اتار کر**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## مرنے سے پہلے ہی میرا انجام کر دیا

#ژباړه:

هغه هم وړ زه د الزام کړم
د جذبو ښار کې يې بدنامه کړم

زيدي يې ښکته د غمو لحد ته کړه
له مرګه وړاندې يې زما انجام وکړ

همدا بيتونه د بانو په کورنۍ ښه تطبيقيږي؛ ځکه کله چې عدنان وغوښتل د بانو درملنه وکړي، کورنۍ يې هغه ته وويل چې بايد په دې خاطر سلګونه زره روپۍ ورکړي .
د بانو کورنۍ دې لالچي ځواب عدنان هم ناهيلی کړ؛ ښايي ساقي فاروقي به په همدې خاطر ويلي وي، چې:

یہ کہہ کے ہمیں چھوڑ گئی روشنی اک رات
تم اپنے چراغوں کی حفاظت نہیں کرتے

ژباړه:

له همدې ويلو سره يوه شپه رڼايي پرېښودو
تاسي د خپلو څراغونو حفاظت نه کوئ

ګلبهار بانو د خپل نوم په څير د هنر او موسيقۍ پسرلی و، چې بې وخته ختم شو، يا ښايي لا ختم نه وي او کوم بې وخته خزاني باد پرې راغلی وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ